# د خپلواکۍ او غلواکۍ جګړې

## د جنرال وزیري او مُلا کاتب په کتابونو کې

ډاکتر رحمت ربي ځیرکیار

zirakyar1234@yahoo.com

۱۵ جنوري ۲۰۱۶\۲۵ مرغومی ۱۳۹۴

«تـذکرالانـقلاب» د ملا فیض محّمد کاتب هزاره ( ۶۳/۱۸۶۲ تر ۱۹۳۱) وروستنی لیکنه ده چې د بچه سقو په ګـډوډۍ را چاپیره ده او د علي احمد امـیري په زیار د جرمني په کُلن ښـار کې په ۳۸۸ مخونو کې خپره شـوې ده. زه ځیرکیارچي د کتاب سرلیک ته کسم، داسې بریښي چې «انقلاب» به د ګډوډۍ یا بغاوت معنی لرله. ما دغه کتاب نه دی لوستلی، بلکې په دغه اړه مې په «ټول افغانستان ویبپاڼه» کې د پـوهـانـد محّمد اعظـم سیسـتـاني لیکـنه لوستلې ده: «تکـمله ای بر کتاب: حبیب الله کی بود، عیاری از خراسان یا دزدی از کـلکان؟» کور دې د امیري او سیستاني اباد وي چې یوه کتاب خپور کړی دی او بل یې لنډیز! سیستاني لیکي چې کاتب هـزاره د دغه کتاب په مسـوده کې (له ۱۹۲۸ نه نیولی د ۱۹۲۹ د اګیسـت د ۲۳ نیټـې پـورې) د امان الله خـان د واکمنۍ (۱۳ اپریل ۱۹۱۹تر جنوري ۱۹۲۹) د وروستنیو شپیو او ورپسې د بچه سقوی پېښې خوندي کړې دي. خو د بچه سقوی د پاتې ۵ ورځو پیښي یې نه دي خوندي کړې.[ مکچیسني او طرزي په ګډه بریښنابیزه لیکنه کې کاږي چې ملا فیض محّمد کاتب خپله ذکر شوې لیکنه د بچه سقو له ماتې وروسته پیل کړې وه].ځیرکیار

R.D. McChesney and A.H. Tarzi,"Fayz Mohammad Kateb"[Iranica.

## بچه سقو د کاتب هزاره په «تذکرالانقلاب» کـې

### د پوهاند سیستـاني د لـنډیز په اړه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ملا فیض محّمدکاتب د شوربازار مجددیان « د دین لاروهونکي، د ایمان غله او د هیواد ویجاړوونکي» ګڼلي دي.د ۱۳۰۷ د مرغومي/جدي په ۲۴(۱۴ جنوری ۱۹۲۹)، د سیستاني په وینا امان الله خان د «...قریب صد لک (ده ملیون) پوند انگلیسی» سره د کندهار په لوري و خوځید.

بچه سقو حبیب الله کلکاني « اسیران را زنده قطعه قطعه کرده و رؤس کشتگان را بر خلاف آئین بشریت و شریعت خاتم مرتبت به اتش سوخت و بر سر چوب زده، در بازار ها گردش داده، و نیز به دار، به گوش یربریده، میخ آهنین کوفته می اویختند. و هم اسراء را لای ولجن به رو مالیده در بازارها تشهیر میکردند.» د کتاب ۱۷۰ مخ. سقاویانو د هغو جلکیانو د نومونو لیست پیدا کړ چې د امان الله خان په مهال به ښوونځی ته تللي. هغو ی ته یې وویل چې مجوري دي د «یو کوهستاني یا کوهدامني غل» سره واده وکړي. له بچه سقاوی نه د کابل د خلکو د نفرت په اړه کاتب کاږي چې :« از سوء کردار و رفتار اعیان و افراد قشون او (پسر سقاء) نسبت به عامۀ خلق از زن و مرد و دختر و پسر و غارت مال و ارتکاب به فسق و فحشاء تمامت مردم از او رویگردان و مایل امان الله خان شده، از دل و جان خواهشمند وصول اویند.» د سقاوي پلویانو په اړه ملا فیض محّمد کاتب لیکي: « د هغوی د وحشت او بر بریت د بیان لپاره کلِمې نشته. هغوی ته یواځې د مسلمانانو او دولت تباه کوونکي ویلی شو. امیرحبیب الله کلکاني چې هرڅومره فرمانونه صادر کړي دي او ځان یې پکې د رسول الله د دین خادم معرفي کړی وي، یواځې د خلکو د غولولو لپاره دي.» د ۱۳۰۸ د وري/حمل په ۱۹(۸ اپریل ۱۹۲۹)، کلکاني حبیب الله په دلکشا مانۍ کې د کابل خواصو، سپین ږیرو او اعیانو، او د لوګریانو او شینوارو په وړاندې په امان الله خان تور لګولی و چې له اسلام نه یې مخ کرځولی او کافر شوی دی ځکه چې د افغانستان د تاریخي دورو بوتان یې په موزیم کې ساتلي وو، او نور «عموم ملت و رعیت و سکنه افغانستان» په زور سره «بت پرست کوي.» بچه سقو کلکاني حاضرینو ته بتان او مجسمې ور په ګوته کړې: «این است معبود های او که به چشم سر می بینید. و دو سه روز قبل آنها را به شنواریان نیز نموده بود و ایشان دست او (بچه سقو) را بوسیده به زبان افغانی (پشتو) گفتند :,,قربان دی سم،بیشک ته پادشاه د اسلام او او بت شکن یی!،، و این نمایشات در قلوب عامه که از علم تاریخ و ادیان بی خبر بودند، موثر مینمود.» ۱۹۲۹تر ۱۳۱ مخونه.

ملا فیض محّمد کاتب ۵ ورځې وروسته کاږي چې: حبیب الله کلکاني د هغو کوچیانو مشران چې د کابل شاوخوا په څرځایونو کې اړولي وو، «رسما راوبلل» او وینا یې ورته وکړه: «ملت عزیزم! امان الله خان کافر شده بود و هزاره که خود شما میدانید، کافر است. اکنون کافر معین و یاور کافر شده، میخواهم شما مسلمانان خون هزاره را از آن من و مالش را بهرۀ خود دانسته، دمار از روزگارش برارید.» ۱۳۸ مخ.

«خادم دین رسول الله» د خپلي غلواکۍ (بچه سقاوی) په نیمایي کې ( ۱۵ ثور ۱۳۰۸لمریز/ ۵ می ۱۹۲۹) امان الله خان ته په الوتکه کې لاندې لیکلې وړاندیز ورولیږه: «من ترا نسبت کفر میدام، اکنون از کثرت خون ریزی مسلمانان، من کافر شدم، اگر سمت شمالی را به من واگذاشته، امان جان دهی؛ دیگر خونی نریخته پیرامون قتال و جدال نگشته، تخت امارت را فروهشته به تو سیارم[سپارم؟] به شرط آنکه ااالی شمالی از ایذا و ازار انتقام کردار خود مامون و محفوظ و مصئون باشند.» ۱۷۴ مخ.

ملا فیض محّمد کاتب نه یواځي دا چې د هغه مهال د افغانستان په شډله ټولنه کې د امان الله خان په بدګڼو پسي اړم شوی دی او د هغه مهال په کلتوري او اداري نیمګړتیاوغږیږي، بلکې د امان الله خان د واکمنی ښیګڼو ته یي هم ګوته نیولي ده: «خدمت بزرگی نسبت به مملکت و ملت افغانستان از قبیل حصول استقلال و معاهدات با دول معظمه و تاسیس مکاتب علوم و فنون متنوعه و حاضر آوردن اقسام ماشین ها و فابریکه های صنایع نفیسه و اشیای مستظرفه وغیره و غیره نمود.» ۴۹ مخ. [دغه ډول اَنډول دریځ د هیواد نامتو ژورنالیست محی الدین انیس هم په خپل کتاب «بحران و نجات» کې نیولی و.] – ځیرکیار

فیض محّمد کاتب د ۲۶ وري/حمل ۱۳۰۸(۱۵ اپریل ۱۹۲۹) د پیښو لاندې کاږي چې سقو ځوی « د افغان او المان د تجارتي شرکت مشر موسی خان قندهاری د اووه تنو نورو قندهاریانو سره د امان الله خان وژلو ته هڅولی و نوید عطای زیادی ایشانرا تطمیع و مامور کرد که او را هلاک سازند.» ۱۴۳ مخ. [زه نه پوهیږم چې دا متن به ټول اقتباس وي، که د دغه اقتباس شوي متن په څنګ کې به نور متن هم وي چې د موضوع سره اړوند ولري؟. زه به فرض کړم چې ذکر شوی اقتباس به د امان الله خان د وژني د پلان په اړه د بچه سقو یواځینی وینا وي. امان الله خان وروسته له دې چې کابل پریږدي، په کندهار کې یې نږدې څلور میاشتي تیرې کړې، خو ژوندی پاتې شو. یعني د بچه سقو هڅې نتیجه ورنکړه. موسی خان خو به د دې مسئول نه وي چې بچه سقاو دې ورته د امان الله خان د وژلو وړاندیز کړی وي؟ دغه شان، د موسی خان زوزات هم د مسئولیت نلري چې پلار ته به یي سقاو ځوی ذکر شوی وړاندیز کړی وي، خو داچې زورات یي په پلان شوې فاجعه کې فعاله برخه اخیستي وي. موسی خان او زابلي د شلمې پیړی په لومړۍ نیمایي کې د افغانستان مخکښ پانګه والان وو. د منطق له مخې، پانګه والان په خپل چاپیریال کې سولې او پرمختګ ته اړتیا لري، نه ګډوډۍ او بې امنی ته. زه د موسی خان د کورنی سره هیڅ ډول تجارتي، مشورتي، سیمه ییز، قومي...یا د خپلوۍ اړیکې نلرم].

ما ځیرکیار د یو څو سره زما د دې دریځ او پو ښتنې په اړه یو لنډ بحث وکړ: هغه معلومات چې ملا فیض محّمد کاتب هزاره (سره د ډیرو روحي او جسمي مشکلاتو) د نهه میاشتنۍ غلواکی په مهال او په اړه را ټول کړي دي، د خپل هیواد د راتلونکي نسل لپاره یې غټ معنوي او تاریخي خدمت کړی دی. نه پوهیږم چې د هغه مهال منورینو به ولې د ملا فیض محّمد کاتب هزاره په شان د غلواکی (بچه سقاوی) له کړاندو نه څپونی لرې کړی نه وي؟! دوست مي را ته وویل چې ځیني منورین د غلواک (سقو ځوی) په «ټولنیزه طبقه او/یا عیاری» را چاپیر وو او له دې امله یې شعور د امان الله خان د پرمختګیز سیاست او د امیر بچه سقو «د طبقې او/یا عیاری» په مینځ کې یرغمل شوی و – ۱۱ جنوری ۲۰۱۶=۲۱ مرغومی/ جدی ۱۳۹۴.

**زما دوه کتنې**: زه ځیرکیار د منلي علی احمد امیري او پوهاند اعظم سیستاني د زیار او علمي خدمت ډیر منندوی یم. زه غواړم په دوه ټکو نوکې رڼا واچوم.

(۱) انګریز کرنیل لورینس( ۱۸۸۸تر ۱۹۳۵) د ۱۹۲۸ د سپتمبر له ۱۳ (۲۲ سنبله ۱۳۰۷) راهیسي په سرحدی سیمه میرانشا کې په یو کوچني هوایي ډګر کې د یو کوچني مامور په څیر لګیدلی و. میرامشا په شمالي وزیرستان کې د افغانستان له پولې نه ۱۰ میله (۱۷ کیلومتره) واټن لري او په افغانستان کې نږدې ښار ورته خوست و. زما د معلوماتو له مخې لورینس به شینوارو ته نه وي تللی. که سهوه مې کړې وي ، بخښنه غواړم.

(۲) ښوواند سیستاني کاږي: «هیچ قوم و طایفه ای مثل قوم هزاره و مردم وردک و لوگر وتګاب، و اقوام درانی و میرزمانخان کنری در افغانستان از امان الله خان حمایت نکردند و مثل آنها مورد خشم و سرکوبی و قتل سقویان قرارنگرفتند. و در میان خانواده های وابسته به امان الله خان، هیچ خانواده ای مانند خانواده نادرخان و وابستگانش از سوی پسر سقو مورد استهزاء و استیذاء و هتاکی و بی باکی قرار نګرفته اند.» زه ځیرکیار د دې اقتباس سره مشکل نلرم، خو غوارم چې دغه ارزون نور هم ارت کړم او د وزیرستان د میړنیانو په سرتیرتیاو لړه رڼا هم واچوم، په هغو میړنیانو چې تر دې دمه د خپلو غرونو سیالان پاتې شوي دي، یعني بګیلیان نه دي. له انګریزانو نه د ټول افغانستان د خپلواکۍ لپاره د وزیرستان میړنیانو له بل هر چا نه زیاتې او کلکې قربانۍ ورکړې دي او ورکوي یې. د افغانستان د ویشلو له تړون (ډیورند تړون ۱۸۹۳) نه دوه کالونه وروسته په ۱۸۹۷ کې د وزیرستان په مدخیلو کې د رټلي ډیورند تړون په ضد کلک ولسي پاڅون راولاړ شو او د یو کال په ا وږدو کې له وزیرستان نه پکتیا، څمکنیو، خیبر اپریدیو، ملکنډ، مومندو، ساپیو،شینوارو، باجوړ، دیر او چترال ته ورسید. د وزیرستان ولس تل د **ټول افغانستان** د خپلواکۍ لپاره راپاڅیدلی و، نه د نیمګړي اوسني افغانستان د خپلواکۍ لپاره!

## د جنرال وزیري کتاب:

**(۱) «ناولی تړون» ۱۹۱۹:** د وزیرسـتـان ولس پـه دواړو جګړو (۱۹۱۹د خپلواکۍ جګړه؛ ۱۹۲۹ د غـلواکۍ/بچـه سقاوۍ جګړه) کې ټاکونکې رول لـوبـولی و. د وزیرستان نومیالی عسکري او ولسي شخصیت یـار محّمد خان وزیری(۱۸۷۱تر۲۶اګست ۱۹۷۲) د خپلواکۍ په جګړه کې ولسي غونډ مشرو او د غلواکۍ (بچه سقاوۍ) په جګړه کې ولسي جنرال و. هغـه امـان الله خـان تـه ګـران و. جنرال یار محّمد خان وزیری په خپل کتاب کې د خپلـواکې د جګړې په اړه داسې لیکلي دي:**«زموږ د سیمو تقریبا دوه زره» غـازیان شهیدان شـول.** خو«د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته زموږ برخه لیک» بیا هغسې پاتې شو چې د عبدالرحمن خان او انګریز تر مینځ د «**ډیورنډ په ناولي تړون** کې ټاکل شوی و او[موږ] یو ځل بیا د رودونـو وینو تویـولو نــه وروسته د ښمنانو ته لاسترلي وسپارل شو.» په داسې حال کې چې غـازیان د جګړې په ډګرکې بـرلاسي وو او انګریزان ځغاستي او ماتې ته اړکړل شوي وو، **غازیان اریان وو چې ولې به امــان الله خان د مغلوب غلیم ســره د اوربـنـد وړانـد یز مـنلی وي؟!** د اوربند پیشنهاد «**بې له دې چې زموږ مشرانو سره پکې سلا او مشوره وکړي» ومنل شو.**

د ۱۲۹۸لمـریز(۱۹۱۹ زییـز) د خپـلواکۍ په غـزا کې « زموږ سیمي بیا د متارکې په پـریکړو کې د افغاني او فـرنګي[انګـریز] هیئتونو له خوا په فـرنګیانو پورې وتـړل شـوې **او زمـوږمجاهـدینـو له نظـره دا دریم نــاولی تــړون و.»** فرنګیان د تودې جګړې په مورچل کې « زموږ له لاسه مغلوب شوي وو، او دې لړه تیار وو چې دغالب قوت ټول شرایط په ځان ومني.» یار محّمد خان وزیری د خپلواکې د جګړې په مهال ولسي غونډ مشر و. د ټل نظامي مرکزد وزیرستان لښکر ونیو او بیا یې ورته محمد نادرخان راوباله چې په «رسمي» ډول یې فتح کړي. د خپلواکۍ په جګړه کې د وزیرستان، کندر، ګوملې او ژوب ولسونو برخه اخیستې وه، او د « فرنګي او ګورکه پوځیانو څخه تر پینځه پنځوس [۵۵] نه زیاتې پوځې چونۍ او مرکزونه یې د دوه اونیو په

اوړدو کې فتح کړل او د فرنګي او ګورکه پوځونه مو تر ډېره غازيخان او ډيره اسماعيل خان پورې په ځټ وتمبول. د وزيرستان، ژوب، ګوملې، او کندر د ولسونو مشرانو او هم د افغانستان حکومت» دومره پوځې وسايل نه لرل چې د فرنګي او ګورکه د ستر پوځ په مقابل کې وجنګيږي. د دوه اونيو په جګړه کې فرنګيانو د ذکرشووسيمو تقريباً **دوه زره (۲۰۰۰) پښتانه** شهيدان کړل. د افغانستان د خپلواکی په جګړه کې «که د کندر، وزيرستان، ژوب او ګوملې قهرمانان مشران او ننګيالي مجاهدين د اعليحضرت امان الله خان په خوا کې نه وای دريدلي نو په يقين سره د فرنګي او ګورکه پوځونه به تر کابل پورې رسيدلي وای ....د فرنګيانو هم دا هدف و نو ځکه يې د افغانستان پولو ته » ګڼ شمير پوځونه راو ليږل. د وزيرستان ، ژوب ،ګوملې، او کندر په جبهو کې د ۶۳ (درې شپېته) «رښتينو قهرمان جرنيلانو او کرنيلانو» نومونه ښودل شوي دي.. نږدې اتلس زره (۱۷۷۰۰) انګريز او ګورکه پوځونه وژل شوي وو. ۸۷ تر۸۹، ۹۱تر ۹۵ مخونه. د خپلواکی جګړه د پښتون ملت په وينو ګټل شوې وه، نه داچې برى د انګريزانو له خوا محّمد نادر خان ته وربخښل شوی و! چا چې د خپلواکی او غلواکی (بچه سقاوی) په اړه د ولسي جنرال يارمحّمد خان وزيري کتاب نه وي لوستلی، قضاوت به يې برسيرن (سطحي) وي.

د غلواکی (بچه سقاوی) په مهال، يار محّمد خان وزيری د وزيرستان د خلکو ولسي جنرال و او دجګړې ټول نظم د ده په لاس کې و. محمد نادرخان او ورونه يې ده ته اړ وو، نه سرچپه!بچه سقاو د کابل په ارګ کې تر هرچا وړاندې د جنرال يارمحّمد خان وزيري په لارښودنه د وزيرستان د جنګياليو له خوا محاصره شوی و. بيا شاه وليخان له چهلستون نه، او ځلور ورځې وروسته جنرال محّمد نادرخان له پکتيا نه راورسيدل. د خپلواکی له جګړې وروسته يار محّمد خان وزيرستان ته نشو ستنيدلی. ا مان الله خان ورته د ده د خدمتونو په بدل کې ده او د ده نږدې ملګرو ته په شاه جوی (پخواني لوی کندهار) کې زمکه ورکړه. امان الله خان چې د اروپا له سفر نه راستون شو، د ده کورته ورغلی. محّمد نادرشاه، د هغه ورونو او محّمد داود خان ته هم ډير ګران و. د جنرال يار محّمد خان وزيري د خاطروکتاب په روانه ژبه ليکل شوی دی، نيتي او د خلکو او ځايونو نومونه پکي خوندي شوي دی، او زما په آند دافغانستان د خپلواکی اوغلواکی د جګړو د څيړني او په جګړه کې د پښتونولی د استعمال د پوهيدني لپاره حتمی دی: جرنيل يار محّمد خان وزيری، د افغانستان د خپلواکی او نجات تاريخ. خپروونکی: د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره. پيښور، پښتونخوا. چاپځی: ملت پريس، لاهور، ۱۳۷۹لمريز/۲۰۰۰زييز کال. ټولټال ۳۸۵ مخونه. زه له ډاکتر يحی رشيد نه ډيره مننه کوم چې ماته يې خپل غني کتابتون راو ښود او د جنرال يار محّمد خان وزيري کتاب يې ماته د لوستلو لپاره راوسپاره. ځيرکيار.

درې افغان جنرالان د ډيورند د سرحد په لوري وخوځيدل: د ۱۹۱۹م د می په ۳ صالح محّمد خان ډکي ته ورسيد، د می په ۵ عبدالقدوس خان د کلات-غلزای/کندهار په لوری وخوځيد او محّمد نادرخان د می په ۶ د پکتيا په خوست کې ديره شو. د وزيرستان ټولو مشرانو او عالمانو پريکړه وکړه چې د ۱۲۹۸ (۱۹۱۹) د ثور د مياشتې په لومړيو کې به په وانه کې د ملا همزالله اخوند په کلي (اشکي) کې په ډير پټ ډول راجرګه کيږي چې انګريزان پرې خبر نشي. د اشکي په تاريخي او پټه غونډه کې لاندې مشرانو او ديني عالمانو برخه لرله: له وزيرستان نه همزالله اخوند د اشکي قاضي، انګور خان، شيرمحّمد خان،دلبازخان،هفتي خان،قايم خان قاضي،

ملا زنګي خان، زرمعین خان،ملک ګل خان، سید خان، ملک رقیم شاه خان، مشرف خان او پایو خان؛ له مسیدو نه ملا فضل الدین اخوند(د ملا پونده اخوند ځوي)، ملک موسی خان، قطب خان، قاضي صاحب او امیرشاه خان قریش؛ له کاکړو نه سردار حسن خان، اخترمحّمد خان مندوخیل او سردار قایم خان؛ له سلیمانخیلو نه ملک فتح خان او نواب خان؛ له خروټو نه نعمت الله خان خروټی، او د کندر له سیمي نه پخپله لیکوال جنرال یار محّمد خان وزیری. خو د انګریزانو د نظام په دننه کي، غازیانو داسي اشخاص لرل چي غازیان او مشران به یي مخکي له مخکي د انګریزانو په پلانونو خبرول – [ دیته په سیاست کي «پنځم غونډ»/ ستونِ پنجم وایي]. په دغه پنځم غونډ کي دا سړي شامل وو: عصمت الله خان میجر صوبدار، پت خان میجر صوبدار، ترین خان جمعدار، مشوخان میجر صوبدار او اجمیر خان میجر صوبدار.

سردار شاه ولي خان د یو شمیر کابلي پوځیانو سره له ګردیز نه اُورګون ته راغی، په دې هیله چي که د کندر، ګومل، ږوب (ژوب) او د وزیرستان د ولس جهادي چارې په خپل لاس کي ونیسي. نږدې ۱۰۰ کلن مشر ملا همزالله خان اخوند اورګون ته بیا هغه جرګه ولیږله چي ګردیز ته یي سپه سالار محّمد ناد خان ته لیږلي وه (انګورخان،امیرشاه خان، عبدالله جان خان، سلیم خان،شیرمحّمدخان، قطب خان،دندخان او مشرف خان) او هلته یي د شاه ولیخان سره هم پیژندګلوي شوې وه. جرګه ګۍ د اورګون په پوځي چونۍ کي د سردارشاه ولیخان سره لیدنه وکړه اوهغه یي په دې پوه کړ چي په وزیرستان او شاوخوا سیمه کي د فرنګیانواوګوره پوځیانو نه د چونیواو مرکزونو نیول « زموږ د ولس په ذمه دی.» دلیل یي دا و چي د وزیرستان او ګاونډیو سیمو خلک خپله سیمه ښه پیژني، شاه ولیخان ته یي ورزیاته کړه چي «د نیول شوو چونیواو مرکزونوساتنه به موږ کابلي پوځ ته سپارو او زموږ مجاهدین به په وړاندې ځي، **تر څو چي فرنګیان د پنجاب او ملتان نه تیر کړي.»** شاه ولیخان د جرګه ګۍ سره «هرڅه منلي وو.» د محّمد نادرخان پلان داو چي په افغانستان باندې د انګریزانو د تیري او پرمختګ د مخنیوي لپاره د خوست، ځاځیو او اورګون درې جبهې مهمې وې. د محّمد نادرخان سره دا اندیښنه وه چي د جګړې په پیل سره به انګریزان په افغانستان برید وکړي «لکه څنګه چي په ننګرهار او کندهار کي د افغانستان خاورې ته ننوتل.» جنرال وزیری کاږي چي په پکتیا کي **د نادرخان دغه درې جبهې** د **انګریزي پوځونو د مخنیوي لپاره وې، نه د برید لپاره.** د وانه د اشکي په جرګه کي مشرانو د برید لپاره څلورسیمي ټاکلي وې: (۱) د وزیرستان د سیمي مورچل پخپله وزیرو او مسیدو په غاړه واخیست. (۲) د ژوب مورچل کاکړو او مندوخیلو ته سپارشوی و. (۳) د کندر مورچل د مریانو، سلیمانخیلواو کوچیانو په لاس کي و. (۴) د ګومل مورچل خروټو او سلیمان خیلو ته ور په غاړه شوی و.

**(۲) د ټل فاتح؟! سپه سالار محّمد نادرخان:** په ننګر هار کي افغاني پوځ د انګریزانو په مقابل کي ماتې وخوړه. دغې ماتي محمد نادرخان او د وزیر ستان د جبهې مشران اند یښمن کړل. ۱۲۹۸ د ثور(۱۹۱۹) د میاشي اخري ورځې وې چي ملا همزالله اخوند د وزیرستان او شاوخوا سیمو مشرانو ته د وزیرو او مسیدو په لاس د جهاد د پیل امر ورکړ. ټل د انګریزانو غټ پوځي مرکز و چي د پکتیا لپاره یي غټ خطر لاره. غازیانو دغه ډیر مهم عسکري مرکز د ۱۲۹۸ لمریز د جوزا په ۳ نیټه [۲۵ می ۱۹۱۹] له انګریزانو نه ونیو، اومحّمد نادرخان ته یي بلنه ورکړه چي د فرنګیانو د ټل ستر نظامي مرکز په **«تشریفاتي توګه فتح کړي»** او د

ټل د سوبې مراسم پرځای کړي. محمّد نادرخان چې تر هم هغه ګینټو یې د ټوپک نه یوه ګولی هم د فرنګیانو په لور ویشتلي نه وه، د ټل پوځي مرکز يې په تشريفاتي توګه د تو پونو د ګوليو په اور سره فتح کړ او بيا يې په ډيره بې انصافی او بې عدالتی سره د ټل فتح په خپل نوم سره ونوموله.

د ګومل په سيمه کې انګريزانو له پخوا راهيسې پوځي مرکزونه جوړ کړي وو. دلته خروټو،سليمانخيلو او ځينو کوچيانو دخپلو ميړنو مشرانو(ملک فتح خان سليمانخيل، نواب خان سليمانخيل، شيرجان خان خروټي، او نعمت خان خروټي) د کوماندې لاندې په خپله سيمه کې د انګريزانو مرکزونه د بريدونو لاندې ونيول او انګريزان يې په شا وتمبول. د کندر په سيمه کې د فرنګي پوځونوپه مرکزونو باندې د بر يدونو چارې د اشکي په غونډه کې غونډمشر يارمحمد خان وزيري ته سپارل شوې وې:« د فرنګيانو موجوديت زموږ د ولس نر او ښځه مجاهدين ګرځولي وو، ښځو به هم ټوپک په اوږه ګرځول.» د کندر په سيمه کې انګريزانو نهه نظامي مرکزونه او چونۍ لرلې. غازيانو د حضرت حسين نيکه زيارت ته نږدې چونۍ ووهله او ۵۰۰ فرنګي او هندي پوځيان يې ووژل، او ورپسې يې د کندر ټوله سيمه د انګريزانو له حاکميت نه خپلواکه کړه او هغوی يې د ژوب پورې وځغلول. په ژوب کې هم فرنګيانو پاخه پوځي مرکزونه جوړ کړي وو. دلته فرنګيانو مليشه لښکر هم جوړ کړی و. په ژوب کې انګريزانو ۱۸ پوځي مرکزونه جوړ کړي وو. کله چې انګريزانو په وزير ستان،ګومل او کندر کې ماتې وخوړه، نو ژوب ته وتښتيدل او د پوځ شمير هلته ځلورچنده شو. په عين ډول، د غازيانو شمير هم ځلورچنده شو ځکه چې ټولو د انګريزانو پوځ تر ژوب پورې وځغلاوه. د انګريزانو له ۸۰ کچرو نه (چې له بولان درې نه يې پرې جنګي سامان راوړی و) درې کچرې وتښتيدلې او نورې ټولې د غازيانو په ولکه کې ورغلې. د سليزي پوځي چونۍ غازيانو ونيوله. غازيانو اپوزه وسيځله او د ژوب نورې ټولۍ چونۍ او پوځي مرکزونه يې ونيول. د خپلواکۍ په جګړه کې د وزيرستان، ګومل ژوب اوکندر نږدې دوه زره تنه په شهادت ورسيدل.[ اطريشي-امريکايي تاريخ پوه اداميک کاږي چې امان الله خان د افغانستان او انګريز په دريمه جګړه (۱۹۱۹) کې اساساً د سرحد د پښتنو په مټ بريالی شو. خو کله چې دغه جګړه پای ته ورسيدله، برتانوي هند موقع مناسبه وګڼله چې ذکر شوو قبيلو ته له دې امله جزا ورکړي چې د افغانستان سره يې کومک کړی و.]- ځيرکيار.

Amanullah “had been successful in the Third Anglo-Afghan War [1919] primarily because of the assistance he received from Afghan tribes in the Independent Tribal Belt.” -Adamec

**(۳) دغلواکۍ په ضد جګړه په کلات کې پيل شوه:** يارمحّمد خان وزيری چې هغه مهال غونډمشر و، له شاه جوی نه د امان الله خان په غوښتنه د وزيرستان په لورځانله پياده وخوځيد(۱۵ حمل ۱۳۰۸)(۴ اپريل ۱۹۲۹) او ۷ ورځې وروسته(د حمل په ۲۲، ۱۳۰۸) [۱۱ اپريل ۱۹۰۸] وزيرستان ته ورسيد او په پټ ډول يې د شمالي او سهيلي وزيرستان د مشرانو سره وکتل چې د غلواک بچه سقو په ضد او د امان الله خان لپاره را پورته سي. په وانه کې د خوجلخيلو غټ جومات مرکزي مقام لاره. په تن کمزوري همزالله اخوند هم په دغه غټه جرګه کې ګډون لاره چې د وزيرو او مسيدو مشران پکې د پريکړې لپاره راغونډ شوي وو. د مولوي عتيداګل

خان له خطبې نه وروسته، یارمحمد خان وزیري په خپله وینا کې د افغانستان او امان الله خان په وضعه رڼا واچوله او د امان الله خان پیغام یې حاضرینو ته ورساوه.

جنرال یار محمّد خان وزیری بومی ته لاړ. هلته د خانجانخان ککه خیل په میلمستون کې پټ شو او دا اوزه یې ګډه کړه چې وزیرو او مسیدو د ده پلا ن ردکړی دی او له دې امله افغانستان ته ستون شوی دی. په دې ډول یې انګریزان غافل وساتل. نږدې شپږ زره تنه وسله وال لښکرد ۱۳۰۸لمریز د ثور په لومړۍ نیټه [ ۲۱ اپریل ۱۹۲۹] د افغانستان په لوري په «ډولونو او اتڼ» وخوځېد. وروسته له اتې نه ورته ملا فضل الدین مشهور په شهزاده یوه کوټلې او هڅوونکې وینا وکړه او لښکر ته یې دوه مهمې سپارښتنې وکړې: یو دا چې د امان الله خان پلویانو ته به په «دې عظیم خدمت کې ونډه ورکوئ»، او بل داچې «هڅه به کوئ چې مخالفین د جرګې له لارې په خپله خوا کې ودروئ». ورپسې انګورخان، دلبازخان، زنګي خان او هفتي خان هر یو په عسکري لحاظ په درې مهمو ټکو ټینګار وکړ:(۱) د هر قوم مشر د همغه قوم کوماندان ټاکل شوی دی؛ (۲) «مور غایب او حاضر مشرانو» جنرال یارمحّمد خان وزیری د وزیرو او مسیدو د «ټولو لښکرو جرنیل[ جنرال]» ټاکلی دی؛ او (۳) د کابل «تر نیولو پورې [به] د ده ترقیادت لاندې روان یو».

**(۴) په غزني کې د امان الله خان د لښکر ماتې:** امان الله خان باید د وعدې سره سم د وزیرستان لښکر ته انتظار ویستلی وای. د وزیرستان نږدې شپږ زره لښکر اورګون ته ورسید چې د بچه سقاو په ضد په غزني کې وجنګیږي. خو مخکې له دې چې غزني ته ورسیږي، خبر شول چې هلته د امان الله خان کندهاري لښکر ماتې خوړلې وه او بیرته کندهار ته ستون شوی و. د وزیرو لښکر هم د ۱۳۰۸ د ثور په ۴[۲۴ اپریل ۱۹۲۹] د وزیرستان برمل ته ستون شو. محّمدنادرخان چې د ۱۳۰۷ لمریز د حوت [مارچ ۱۹۲۹] په میاشت کې له فرانس نه پیښور ته راستون شوی و، له هغه ځایه یې ځان پکتیا ته رسولی و. دوه ورونه یې ( کرنیل شاه ولیخان او کرنیل شاه محمود خان) په پکتیا کې ورسره وو چې هلته ولس د بچه سقاو په ضد راټول کړي. نادرخان او ورونه یې د بچه سقاو په ضد وو، خو نادرخان خپل دریځ نه و اعلا ن کړی چې د امان الله خان یا د خپل ځان لپاره د سقاوی ختمول غواړي. جنرال وزیری دې پایلې ته ورسید چې بیا دې د مسیدو او وزیرو لښکر راغونډ کړي او سقاوي دې پای ته ورسوي. «سپه سالار محّمد نادرخان او د هغه سره مل ورونو د څلور میاشتو په مدت کې څلور سوه افراد په درست جنوبي کې هم نه وو په څنګ کې درولي»، او د سقاویانو د مخ په زیاتیدونکي شمیر له امله له «یوې سیمې څخه بلې سیمې ته په منډه او فرارکي وو.» جنرال وزیری په برمل کې د قومي مشرانو سره پریکړه وکړه او دا ځل د شپږنیم زره لښکر سره پکتیا ته ننوت، په دې پلان چې لومړی به د اورګون چونۍ وهي او بیا به د کابل په لوري خوځیږي. د وزیرو او مسیدو لښکر د ۱۳۰۸ لمریز د جوزا په لومړۍ نیټه[۲۲ می ۱۹۲۹] اورګون ته ورسید او خپل کمپ یې د اورګون نظامي کلا(مونډې) ته نږدې وواهه چې سقاوي غونډ مشر عبدالغیاث خان کوهدامنی او کندکمشر میرحسن خان چند ولې یې کوماندانان وو.

د لمریز۱۳۰۸ د جوزا د لومړۍ شپې[۲۲ می ۱۹۲۹] په لسو بجو ډول ووهل شو په مونډه کلا برید پیل شو. سقاویان، جنرال وزیري ته تسلیم شول، او ټولومشرانو ورسره د غیرې ستړي مشي وکړل. نادرخان د ځاځیو

په علیخیلو کې اړولي وو. جنـرال یارمحّمد خان وزیری ورته لیک ولیږه چې د امان الله خان د بیا راوستلو لپاره ورسره د کابل په لوری وخوځیږي. خو جـواب یې «په ښت را نغی.» جنرال وزیري شپږنیم زره تکړه سرتیري لرل، او وسله او خوراک یې په اورګون کې له مونډې کلا نه لاسته راوړې وو. خو نـادرخان او ورونو یې نه سرتیري لرل، نه یې وسلې لرلې او نه یې پیسې لرلې چې د جنګ سړي او وسلې پرې راونیسي.هغوی د ځاځیو په علیخیلو کې هم ارام نه وو ځکه چـې په خوست او ځمکنیو کې د سقاویانو د ګواښ سره مخامخ وو. پـه دغسې شرایطو کې نادرخان او ورونه یې مجبور وو چې د جنرال یارمحّمد خان وزیری کوماندې ته تن کښیږدي. د وزیرستان د لښکر پالیسي داسې وه: کوښښ دې وشي چې د سـقاو پلویانو ته د جنګ په ځای د دوستۍ لاس وروغځول شي؛ محّمد نادرخان او ورونه دې دیته راوبلل شي چې د هیواد د ژغورنې په جګړه کې برخه واخلي؛او د کابل په نیولو سره دې امان الله خان بیرته راوبلل شي یا دې د هغه د کورنۍ کوم نږدې غړی ته د سلطنت واګې وروسپا ل شي. نادر خان د وزیرو او مسیدود لښکر کوماندان (جنرال یارمحّمد خان وزیري) ته داسې لیک ورولیږه: «عزیزانو! د وزیرو او مسـودو [مسیدو] غـیورو مشرانو، ستاسې میړانه او شجاعـت د خپلواکۍ په جګړه کې راته څرګند شوي دي. نن بیا همغه د میړانې اوغیرت ګینټه ده. اعلیحضرت غازي امان الله خان د یوه سارق او کـوتاه طریق له لاسه خارج ته فـرار کړی دی. د هیواد هـره بر خه د بې اتفاقۍ په اور کې سوځیږي. افغاني ننـګ او غیـرت دا تـقاضـا زمـوږ تـولـو څخه کوي چې پـه اتـفاق او اتحاد سره وطن ته د رواني فتنې نه نجات ورکـړو. محمد نـادر» - مخونه ۲۳۹-۲۳۸

**(۵) د نـاهیلي محّمد نادرخان سره ګډه نـقشه جوړول:** د ۱۳۴۸هق د ربـیع الثانی په ۲۰[۲۵ سپتمبر ۱۹۲۹=۳ مـیزان ۱۳۰۸] د ژغـورنې لښکـر د ځاځیـو عـلیخیلـو تـه ورسیـد او هلته ورتـه محّمـدنادرخان په «افـغاني جامه» کې له چاونۍ نه بهر راوتلی و او د تولو مشرانو سره یې پـه غیږ روغبړ وکړ. د ځاځیو «غیرتي مشرانو» (حاجی جـانخان، سیدخان، سربلـندخان اولـیپت خـان) د جـنرال وزیري هیله ومنله چې: تـرهغه مهاله بــه دغـه مشـران او ولـس پـه وارسـره « زمـوږ [د وزیـرو، مسیدو، دوړو او تـنیو د لښکـر] ټیکله بـرابروی » او دغـو «میړنیـو مشـرانـو پـه ورینـه ټنډه» دجنرال وزیري هیله ومنله. د ماښام له لمانځه نه وروستـه، نادرخان خپل استوګنځای ته ستون شو، او د ماخوستن له لمانځه نـه وروسته یې جنګي مشـرانو ته بلنـه ور کړه چې جرګه ورسره وکړي. هغوی ورغلل، او پــه استوګنځای(چونۍ) کې محّمـد نـادرخان «زموږ دهرکلي لپاره لاس پر نامه ولاړ و». په دغـه غونډه کې مشرانو «پوره درک کـړه» چې محّـمد نادرخان «څـومره ناهیلی» و. ده په شپږ میاشتو کې ونشوکولی چې پـه جنوبي کې «څلور سوه جنګیالي» پــه ځان راټـاو کړي.

**(۶) د محّمد نـادرخان سره د امـان الله خان لپاره تـړون لاسلیک کول:** د مشرانو په وکالت لـیکوال جنرال یارمحّمد خان وزیري چې د ژغورنې د جګړې کوماندان و، محّمد نادرخان ته داسې وویـل:«سپاه سالار صاحب! دا ننګیالي او جنګیالي ...خاص د اعلیحضرت غازي امان الله خان د هغـه فرمان په اعتبار راغونډ شوي دي چې د ۱۳۰۸د حمل په دولسمه نیټه[۱ اپریل ۱۹۲۹] په شاجوی کې مالـره وزیـر صاحب عـبدالا حد خان سپارلی و»(۲۵۷-۲۵۰مخونه). تـر دې وینا وروسـتـه، عبـد الله خان مداخـیل د مـلک زنـګي خان مـداخیل

ورور «سپاه سالار» ته وویل: جنرال یارمحّمد وزیري «هغه څه بیان کړه چې موږمشرانو عهد او پیمان پرې کړی دی». غونډه په دې پریکړه پای ته ورسیده چې «سبا به جرګه کوو».

سبا د ربیع الثاني په ۲۱/ ۱۳۴۸هـق [۲۶ سپتمبر ۱۹۲۹=۴ میزان ۱۳۰۸لمریز] په جرګه کې د ژغورنې د جګړې مشرانو او محّمد نادرخان ۱۵ پریکړې ومنلې چې یو څو یې دادي: د هیواد په ژغورنې ورپسې دې واکمني امان الله خان ته یا دې د ده د کورنۍ کوم بل غړي ته ور وسپارل شي؛ د امان الله خان تر راتګ پورې به محّمد نادرخان د واکمنۍ کفیل وي؛ ... همدا اوس دې د سقاو ټولو پلویانو ته عفوه اعلان شي، خو د جګړې بندیان دې د هیواد د ژغورنې پورې «وساتل شي» او بیا دې « په عزت او احترام سره» ازاد شي. ورپسې محمد نادر خان «زموږ سره په قرآن لاسلیک وکړچې د جرګې ټولو پریکړو... ته به غاړه ږدي» . ټول لښکر د ۱۳۰۸لمریز د تلې (میزان) په ۵ [ ۲۷ سپتمبر ۱۹۲۹] دوبندۍ ته ورسید او کرنیل شاه ولیخان او ملګري یې ښه راغلاست ته راوتلي وو. خو کرنیل شاه ولیخان اندیښمن و چې څنګه به څلورنیم زره لښکر د بچه سقاو اویا زره لښکر ته ماتې ورکړي. خو لیکوال جنرال وزیري ورته ډاډ ورکړ چې د بچه سقاو د جنګیالیو روحیه یې په پکتیا کې «لیدلې ده». ځلمي خان منګل، زمرک خان ځدراڼ، مُلتاني مولوي صاحب الله نوازخان (د حبیبیې ښوونځي ښوونکی) اوحاجي نواب خان کاکا هم د لیکوال جنرال ستاینه وکړه ،اوشاه ولیخان ارام شو. د شاه ولی خان هڅه په دې راڅرخیدله چې د کابل په مورچلونو کې د ژغورنې د لښکر مشرتوب « په خپل نوم سره ونوموي، خو موږ [د ژغورنې د لښکر مشرانو] » ته دغه هڅه د منلو وړ نه وه ځکه چې د خپلواکۍ له جګړې نه یې زده کړه کړې وه ( د خپلواکۍ په جګړه کې محّمد نادرخان ځان د ټل فاتح اعلان کړی و): هغه مهال (۱۹۱۹زییز) د وزیرو او مسیدو لښکر له انګریزانو نه ۵۵ چونۍ او پوځي مرکزونه ونیول، خو د ټل د چونۍ فتح د محّمد نادر خان په نوم سره ونومول شوه.

**(۷) د کابل جګړه:** سردار شاه ولیحان د جرنیل(جنرال) غلام حیدرخان په کور کې دیره شو. د ۱۳۰۸ د میزان په ۱۴[۶ اکتوبر ۱۹۲۹]، ولسي جنرال یارمحّمد وزیري د خپل لښکر سره د بچه سقاو په مقابل کې د کابل په هسکو کې مورچلې ونیولې او په هغه ورځ یې د سقاویانو سره جګړه پیل کړه او په لږ وخت کې یې څلور مورچلې ورنه ونیولې. کرنیل شاه ولیخان په چهلستون کې «دربار غوړولی و، سپاه سالار صاحب محّمدنادرخان د ځاځیو په علی خیلو کې زما د جنګیالیو د ماتې او بري » خبر ته سترګې په لار و. کرنیل شاه ولیخان مخکې له دې چې د ژغورنې د لښکر مورچلونو ته ورشي، د سقاوي سور جرنیل [جنرال] محّمد عمر خان سره یې لیدلي وو. داچې سور جنرال «څه ورته ویلی وو، د هغه څخه زه ناخبره وم». سردارشاه ولیخان چې له چهلستون نه د منګلو د مشر (ځلمی خان منګل)، د ځدرانو د مشر (زمرک خان ځدراڼ) او د ځاځیو د مشر (ملک جانخان) په بدرګه د جنرال وزیري د لیدنې لپاره په اس سپور ورغلی و، «ما[ جنرال وزیري] او زما ملګرو ته د مایوسۍ او نا امیدۍ تلقین کاوه».

پریکړه داسې شوه چې جنرال وزیری به خپل جنګیالي «نن شپه» د ارګ هر لوري ته رسوي. د شپې په نهه بجو د کابل په لوري د برید ډولونه ووهل شول. د ژغورنې لښکر د سهار په اووه بجو د کابل ښار مرکز ته ننوت،درې ګینټې وروسته ارګ ته ورسید، بچه سقاو یې هلته محاصره کړ، او له ارګ نه بهر

د سقاو ټولي مورچلــي يې ړنګي کړي وې. د ۱۳۰۸ لمريز د ميزان په ۱۸[۱۰ اکتوبر ۱۹۲۹]، سردار شــاه ولی خان په اس سپــور د خـپلوځاځـيو او ګرديـزيـو پيره دارانو او يو شمير قومي مشـرانو سـره د کابـل ښار ته راورسيد، او «موږ» ته يې د کابل د نيولو مبارکي راکړه، او دومره خوښ و چې د ژغورني د لښکر هر کوماندان او مشر به يې «په ړيـره او مخ بانـدې ښکـولو.» يو چا ورته د ده دوه کلن ځوي عبدالـولي راوړ. د کابل ښار « ټـول مخـورين ټول په کـورونو کې وو او يو کس مو هم و نه ليد چې موږ...ته د کابل د نيولو مبارکي ووايي.» خو د دې پر ځـای، «يـواځې» د کابـل غريـبو خلکو ناري وهلې چې: «زنده باد فاتحين کابل...زنده باد غـازی امان الله خان». د کرنيل شاه وليخان په رارسيدلو سره «د کابل ښار مخـوريـن او سـرداران هـم د خپلـو کورونو څخـه راووتل او هـر يو شاه وليخان ته د کابل د نيـولو مبارکي ويله او د تيـرې دورې څخـه يې خپـل شکايـتونه وړانـدې کـول». د۱۳۰۸ د تلې په ۱۸[۱۰ اکتـوبر ۱۹۲۹]، سـردار شاه محمود خان د کابل له شـوربـازار نه پـه اس سپور د کابل د سيند په غـاړه د ژغورني د لښکر ساحې ته راورسيد. «تـر حده زيات وارخطا و». جنرال يارمحّمد خان وزيري تـه محّمد ګل خان مومند ، زمرک خان ځدراڼ، عبدالغني خـان ګرديزی، مـولـوي الله نـوازخـان، شـاه محمود خان او شاه وليخان د مبارکی لپاره راغلل.« د ټولو څخه لومړی محـمدګل مـومنـد چې د ډير حساس فکر خاونـد و» او زمـرک خان ځدراڼ( د غـيـرتي ببرک خان ځدراڼ ځوی) د جنرال يار محّمد خان وزيري نظر ومانه چې زر تـر زره دې پـه ارګ بـريـد وشي، مخکي له دې چې له کندهار، مشرقي ، جنوبي او شمالي نه سقاوي لښکـري کابل تـه راورسيـږي او دوی د ناکامی سره مخامخ کړي. وروسې نورو ټولو ومنله چې د ۱۳۰۸ لمـريز د تـلې (ميزان) پـه شلمه[۱۲ اکتوبر ۱۹۲۹] دې سهار وختي د ارګ عـمليات پيل شـي. شاه محمود خان او شاه وليخان په «ظاهره څه اظهار نه کاوه» ځکه چې د کورنی غړي يې په ارګ کې بنديان وو. د پريکړې سره سم په ارګ باندې د توپـونو بريد وشو او له غـولي نه يې د اور لمبې او لـوګي جګ شول. ولولئ مخونه ۳۱۵ تر ۳۲۲.

**(۸) د حضرت اغـاګل مجد دي په مشرۍ د بچه سقـاو د سولي هيئت:** حضرت اغـاګل مجددي چې د حضرت نورالمشايخ مجددي ورور و پـه ارګ باندي له بريد نه څو ګينټي وړاندې، د ۱۳۰۸لمريز د تلې د نولسمې[۱۱ اکتوبر ۱۹۲۹] د شپې نهه بجې وې چې د دوه نـورو ملايانو او حکمران سردار عليشاه خان سره يو ځای، د بچه سقاو او دهغه د خيلخانې د امن د غـوښتلو په شفاهي هيله د ژغورني د لښکر مورچلونو ته له ارګ څخه په مـوټـر کـې چې سپيـن بيرغ وربانـدې رپانده و راغلل. مشرانو خپلمنځه جرګه وکړه چې وزيـر محّمدګل مـومنـد، سـردار شاه ولی خان، او سردار شاه محمود خان هم پکې برخه لرله. جنرال يارمحّمد خان وزيري خپله پريکړه حضرت اغاګل مجددي او د هغه ملګرو ته په ډاګه کړه چې «د ملت قاتل» بچه سقاو ته د امن او يا په امـن د فـرار اجازه نـشي ورکولی. پريکړه دا وه چې د بچه سقاو نه به «قدرت په زور اخلو او هلته په ارګ کې به يې لاس تړلی نيسو....» سردار شاه ولی خان «فوراً د څو کلمو ويلواجازه» وغوښته او په « ډيره عاجزانه وينا سره يې موږ ته » داسې وويل چې: جنرال يارمحّمد خان وزيري «هغه څه وويل چې زموږ ټولو مشرانو د واحد زړه او فکر خبري وې. اوس به موږ د حبيب الله سره په څه توګه جنګ وکړو. هغه[بچه سقاو] په ارګ کې دی او زموږ د کورنی نارينه او ښځينه غـړي ... يـې په ارګ کې يـرغمل کـړي دي. زموږ د لـوري په حبيب الله باندې فـشار، زموږ د کورنی د غـړو ژونـد په خطر کې اچـوي. ولې بيا هم د وطن د

نجات په هيله تاسو د قوم مشرانو چې هرڅه پريکړه وکړه په هغه باندي زما او د شاه محمود موافقه ده.» ليکوال جنرال وزيری وايي چې دواړه سرداران ورونه «پريشانه او ماتيجن ښکاريده». محّمدګل مومند چې يو «حکومتي او قومي هوښيار او ځيرک شخصيت و او د جرګې چاپيريال يې ډير ښه ځاره»، ټولو مشرانو ته وړانديز وکړ چې د حبيب الله د امن پريکړه دي دوه سردارانو ورونو (شاه ولی خان او شاه محمود خان) ته وسپارله شي په دي دليل چې د دوی ناموس د حبيب الله له خوا يرغمل شوی دی. ټولو مشرانو د هغه وړاند يز ومانه. سردار شاه وليخان بچه سقاو ته داسي وليکل: «حبيب الله وروره! ته د افغانستان د حکومت غاصب يې او د افغانستان مظلوم ملت دي ټوکر ټوکر کړی دی، اوس ته امن غواړې. زموږ له لوري څخه تاته امن دی او د خپل ال و عيال سره [د ارګ] د شمالي دروازې له لارې نه کوهدامن ته ولاړ شه، په بيت المال او جبه خانه باندي لاس مه وهه». شپې لس بجې وې چه دغه ليک حضرت اغاګل مجددي او دوه ملايانو ته وسپارل شو.

په هغه شپه حضرت اغا ګل مجددي د خپلو دوه ملګرو سره په خپل موټر کې سپور شو او د ارګ په خوايې حرکت وکړ. څه کم يوه ګينټه وروسته د جرګې مشران خبر شول چې بچه سقاو د ارګ د شمالي دروازې له لارې «فرار» کړی دی. په هغه تياره شپه «مو د حبيب الله د بنديخاني څخه د سپه سالار محّمد نادرخان، شاه ولی خان، شاه محمود خان، سر دار اسد الله خان،د سردار عليشاه خان دکورنۍ غړي او د اعليحضرت امان الله خان ورور راوويستل». تر دغه مهاله محّمد نادرخان په ځاځيو کي و، امان الله خان له هيواد نه بهر و او هيواد ته بيرته راتګ يې زر ناشوني و. خو محّمد نادرخان د ژغورني د جنګياليو د مشرانو سره قرآن مجيد لاسليک کړی و چې د بري په صورت کي به د «اعليحضرت غازي امان الله خان يا د سراج دکورنۍ کوم بل غړي ته تاج و تخت سپاري»: ۳۲۴ تر ۳۲۹ مخونه.

د ارګ له نيولو نه درې ورځې وروسته، محّمد نادرخان کابل ته راغئ او د ژغورني د لښکر هر مشر يې په غيږ کي داسي **«ټينګ نيوه» لکه د بيت الله حاجي چې «حجر اسود په غيږ کي نيسي».** هغه د کابل د نيولو څلورمه شپه په چهلستون مانۍ کي تيره کړه. د ۱۳۰۷ لمريز د تلې(ميزان) په ۲۳[۱۵ اکتوبر ۱۹۲۹] «موږ قومي مشران» او محّمدنادرخان له چهلستون نه د ارګ سلامخاني ته ورسيدلو. هلته د کابل مخور او سرداران د سپه سالارمحمد مادرخان هرکلي ته راغلي وو او د سفارتونو «يوشمير غړي»هم ليدل کيدل. محّمدنادرخان حاضرينو ته په خپله «لنډه وينا» کي «خپل زحمتونه اوتلاشونه بيان کړل، د وطن د نجات ټولي کارنامي يې په ځان او خپلو ورونو پوري وتړلي ....ولي زموږ د خدمتونو او هڅو يې لږ شانته يادونه ونه کړه...اود اعليحضرت غازي امان الله خان د بيا راوستو تش وړانديز يې وکړ.» سم د لاسه د کابل « د مال او مقام وږو او تږو چاپلوسو افرادو» او «يوشمير»قومي مشرانواو د امان الله خان ورور(سردار امين جان [د نادرخان خوری])، نادرخان ته بيعت وکړ.خو د وزيرو، مسيدو، دوړو، ځدرانو او ننيو مشران غلي پاتي شول او له دي لارې يې نادرخان پوه کړ چې دوی ناراض دي. جنرال وزيري د امان الله خان يو مخلص مامور مومند ته وويل چې د امان الله خان په «خاطر [يې] دا ټولي وينې وبهولي ، اوس به هم د وينو ويالي جاري کړم ولې کاشکي د خپلواکۍ محصل را لره نژدې وای.» د مشرانو د دغې غونډې راپور کوم چا

محّمـدنـــادرخان تــه رسولـی و. په سبا (۲۵میزان ۱۳۰۸) [۱۷ اکتوبر ۱۹۲۹] شاه محمودخان او محّمدګل خان مومند د وزیرو او مسیدو مشرانو ته ورغلل چې احوال يې واخلي او د محّمدنادرخان «هیلـه» ورته ورسوي چې «نن ورځ [به] په ځانګړې توګـه ستاسو سره وګوري». جنـرال یـارمحّمـد خان وزیری دغه بلنه ومنله او د شاه محمو خان او محّمدګل خان مومند سره یوځای د سـردار فتـح خان کورته ورغـلل چې محّمدنادرخان پکې دیـره و.

کـورتــه په ننــوتــلوسره، محّمدنادرخان يې روغبـړ تـه ور ووت، او داسې يې ورته وویل چې: «دافغانستان ملت او زه شخصا ستاسو قهرمانانو مـدیون یم. د وطن د نجات په لارکې ستاسو هریو خدمت به انشاالله په دنـیا او دیـن کې ضایع نــه شي....زه نــن هم په هغه عهد او پیمان ولاړیم چې موږ او تاسو په ځاځیـو کې وربانـدې دُعا کـړې وه.» جنرال یار محّمـدخا ن وزیـري ورغبرګه کړه: «سپه سالار [محّمد نادرخان] صاحب! د الله په نصرت او د قومي مشرانو پــه همت او میړانــه کابل فتح شو، د حبیب الله [بچه سقاو] شر او فساد د هیواد د یـوې برخې څخه ټـول شـوی دی؛ په کنـدهار، مشـرقي اوشمالي کـې اوس هـم دهغه پـلویـان فعال دي او بهانې لټـوي. اوس مـوږ ټـولـو تــه پــه کار ده چې [د ځاځیو] د علی خـیلو په پیمان بانـدې عمل وکـړو چې د نورو وینـو تویـولـو جلوګیري پــه هـمدې کار سره وشـي.» محّمد نـادرخان ورته وویل:«....نن زه [دځاځیو] دعلی خیلو پـر هغه عهد او پیمان ولاړ یم...پـه وطـن کې د ارامی او امیت راوستلو وروستـه ستاسو عـزیزانو هـره فیصله زمـوږ د ورونــو فیصله ده.... د اعلیحضرت امان الله خان سره بــه مـوږ پــه تماس کې شـو چې خـپل وطـن تــه راستـون شي او دا کار څه وخت غـواړي.» ۳۳۰تر ۳۳۶ مخونه.

اوس ما ځیرکیار ته د خپلواکی او غلواکي دجګړو په اړه د سر تیري او مدبر ولسي غونډ مشر اوجنرال یار محّمد خان وزیري سترګو لیدلي پیښې او په دواړه جګړو کې د هغه کوټلي او اغیزمنه برخه زیات اعتبار لري نسبت فرضیواواټکلونو ته. انګریزانو محمد نادرخا ن د افغانستان د خپلواکی د جګړې په کټلو کې نه و بریالی کړی! محّمد نادر خان یـو ټـوپ هم نه و کړې، او د انګریزانو له عسکري قدرت نه په پکتیا کې ډار نیولی و. بلکې د وزیرستان، کندر، ژوب او ګوملي میرنو قومونو انګریزانو ته پرله پسې او درنې ماتې ورکړې وې او انګریزان يې مجبور کړي وو چې زر تر زره د ډزبند هیله وړاندې کړي! خو کټلي جګړه د قلم په نوکه پنچر شوه! د جنرال یار محّمد خان وزیري دخپلواکی او غلواکی د جګړو سره جرګې غبرګې رواني وې او دریځونه ځرګند وو.

پای